لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۲۰/۰۴/۰۷

# د یوه هیوادپال افغان لخوا د پاکستان لومړنی وزیر اعظم لیاقت علي وژنه؛ د ډیورنډ کرښې کړکیچ او افغان ولس ته د ناموس سپکاوي قضیه

دریمه برخه

اتل شهید سید اکبر خان ځدراڼ څوک و؟

شهید سید اکبر خان ببرک زی ځدراڼ د افغانستان د ملي خپلواکۍ نومیالی غازي شهید ببرک خان ځدراڼ کشر زوی، د مرزک خان ځدراڼ لمسی او د سردارفتح خان ځدراڼ کړوسی دی.

په ۱۲۹۹ هجري شمسي کال کې د خوست ولایت د نارشاه کوټ ولسوالۍ د ګیدوري په کلی کې زیږیدلي. د سید اکبر ببرک زي هیواد پاله مجاهده کورنۍ د خوست ولایت نادرشاه کوټ ولسوالۍ د ګیدوري په سیمه کې د افغانستان په محاصر تاریخ کې په ملي او نړیوال کچ ستر شهرت موندلی دی.

سیدا کبر ببرک زی د خپلو نهه ورونو کورنیو سره د یوې پلان شوې سیاسي توطیې له مخې چې ویل کیده، دوی غوښتل غازی شاه امان الله خان بیرته خپل سلطنتي تاج او تحت ته ورسوي، د افغان شاهي دولت تر وسله وال برید لاندې راغي او برتانوي هند ته فراري او تبعید کړل شو.

په ۱۹۴۷ کال د جنوري په میاشت کې اتل سید اکبر خان ببرک زی د خپلو دوو ورونو سره برتانوي هند ته واوښت.

د انګریزي امپراتورۍ اړوندو ځواکونو لومړۍ دري واړه ورونه په وزیرستان کې ونیول شول او بندیان کړل. دوی سمدلاسه د برتانوی هند څخه سیاسي پناه وغوښتله او سیاسي پناه ومنل شوه. انګریزان پوهیدل، چې څومره دا خلک د ډیورنډ له کرښې څخه لرې وساتل شي، په هماغه کچه به ترینه ارامه وي. سید اکبرخان او ورونه یې د برتانوی هند ایبټ اباد ښار ګوټي ته ولیږدول شول او هلته میشت شول.

د شهید اتل سید اکبر خان ببرک زی کورنۍ پیژندنه او د افغان شاهي دولتونو سره د دې ستري کورنۍ اړیکو ته یوه لنډه کتنه

شهید سید اکبر خان ببرک زی ځدراڼ د غازی ببرک خان ځدراڼ په نهو زامنو کې تر ټولو کشر زوی و. د غازی ببرک خان ځدراڼ د زامنو نومونه په لاندې ډول دي، مشر زوی دیني عالم مولوي شیرک خان ببرک زی ځدراڼ، نایب سالار زمرک ځان ببرک زی ځدراڼ، قومي مشر وکیل شیر محمد خان ببرک زی ځدراڼ، یارو صیب عبد الله ځان ببرک زی ځدراڼ، مشر نعمت الله خان ببرک زی ځدراڼ، مشر میر افضل خان ببرک زی ځدراڼ، مشر عبدالرحیم خان ببرک زی ځدراڼ، ډګروال مامون خان ببرک زی ځدراڼ او په خپله مېړنی غیرتمن ملي اتل ځوان شهید سید اکبر خان ببرک زی ځدراڼ دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د لويي پکتيا په تاريخ کي غازي ببرک خان د ځدرانو قبيلي يو وتلى ملي مشر پيژندلي شوي دى. هغه د خپل قام چوپړ لپاره د خانى ريښتيني پګړى په سر تړلي وه. د شهيد سيد اکبر خان پلار نوميالي غازي شهيد ببرک خان نه يوازې د ځدرانو قبيلې، د لويي پکتيا يو وتلى او پيژندل شوي قومي ملي مشر خان و، بلکې دى د لوى افغانستان د بيا جوړولو په تاريخ کي يو مخکښ سپيڅلي ملي مبارز پيژندل شوي دى.

غازى ببرک خان د اميرعبدالرحمن خان پام هغه مهال ځانته راواړولو، کله چي ځوان ببرک خان د خپلو ملګرو سره د خپل افغاني ننګ او غيرت پر ځاى کولو لپاره او د خپلي پښتني افغاني احساس له مخې، د پښتو او پښتونولي د اصولو په چوکاټ کي نه يوازې انګريزانو ته اجازه ورنه کړه، چي زموږ د ويشلي شوي را پاتي خاورې ته را دننه نشي، بلکي د ډيورنډ تحميلي کرښي په بله غاړه کي د برتانوي هند په سيمه کي پر انګريزي يرغلګرو پوځونو غلچکي يا چيريکي بريدونه هم کول. هغه د انګريزانو پوځي تاسيسات، پوځي چوني او پوځي مرکزونه تر بريد لاندې نيول. دا مهال د ډيورنډ استعماري کرښه تازه په کاغذ کي کښل شوي وه. د انګريزي استعماري کرښه ببرک خان ځدراڼ او د هغه پکتياوالو ځوانو ملګرو ته د منلو ورنه وه. دوى د نوي استعماري کرښي خلاف په خپلواکه توګه په انګريزانو باندې بريدونه کول. انګريزانو ته د ببرک ځان ځدراڼ خپلسري بريدونه په برتانوي هند باندې بريدونه ګڼل کيده. دوى ته يي په سيمه کي ستر سرخوږى رامنځ ته کړي وه. له ډيرو بريدونو او تاوانونو اړولو ورسته انګريزانو افغان شاهي دولت ته د ببرک خان د بريدونو په اړه د ليکل شوي پروتوکول له مخي رسماً شکايت وکړو. څو د لاسليک شوي پروتوکول له مخي د ببرک خان د جګړييزو تحرکاتو مخه ونيول شي. امير عبدالرحمن خان د لويې پکتيا حاکم اعلى سردار شريندل خان ته يو فرمان وليږلو، څو ببرک خان ځدراڼ کابل ته احضار کړي. ببرک خان ځدراڼ پرته له کومې وېرې د کابل په لور روان شو او د امير حضور ته حاضر شو. تر ډې لنډې ليدني کتني ورسته امير عبدالرحمن خان د ببرک خان په ميړانه، صداقت، اطاعت او افغاني ولسي پوهه او سرښندنه باندې ډاډمن شو. په خپل امر د پکتيا حاکم اعلى ته يو فرمان ولږه، څو د ځدرانو د المرې په سيمه کي دولتي ځمکه ببرک خان ته ورکړل شي او هم د ملکي غونډ مشر رتبي په څنګ کي د لويي پکتيا په سيمه کي د ډيورنډ کرښي صفري نقطي څارنه او ساتنه هم ور په غاړه کړل شوه. ببرک خان سمدستي د ډيورنډ کرښي په اوږدو کي دوولس تاني جوړې کړي او په خپله سيمه کي يوه ستره جنګي کلا جوړه کړه. د دې ځانګړي فرمان له مخي ببرک خان ته رسماً د سويلي سيمو څارنه وروسپارل شوه.

,, د تاج التواريخ په کتاب کي هم ترينه ياده ونه شوي,,.

د افغانستان د خپلواکى ملي اتل غازى ببرک خان ځدراڼ د خپلو ځامنو او د خپلي شتمنيى سره د دين او وطن، د خپلي خاورې خپلواکى، د افغانيت او اسلاميت د ساتلو په لاره کي په سياسى، ملي، پوځي او تاريخي ډګرونو کي ستري کار نامي ثبتي کړى دي.

افغانستان در مسير تاريخ کتاب کي د انګريزانو په وړاندې د افغانستان د استقلال په غزا کي د غازي ببرک خان او د هغه دوو زامنو حاجي شيرک خان او نايب سالار زمرک خان د هيواد د نورو نامتو جنګيدونکي نوموتي سپيڅلي غازيانو په کتار کي ياد کړي دي.

کله چي غازي ببرک خان د خپلو دوو زامنو سره مولوي شيرک خان او نايب سالار زمرک خان د افغانستان د خپلواکى په غزا کي د ډيورنډ کرښي په بله خوا کي د ټل په محاذ کي پر انګريزي پوځونو برې وموند او په لومړى ځل د ډيورنډ کرښي په بله خوا کي د افغانستان ملي بيرغ د انګريزانو د ټل پر جنګي کلاه باندې ورپاول شو.

غازى ببرک خان په سويلي محاذونو کي د پرنګي يرغلګرو خلاف ځښت ډير جنګيدلى دى. هغه د لويي پکتيا د غازي قومونو سره په ګډه د ډيورنډ کرښي په وړاندې د ډيورنډ کرښي په وړاندې د پرنګي ټولي پوځي چوني چي اغزن سيمونه ترينه تاو شوي وه، د سيمه ييزو غازيانو په مرسته او ملاتړ له منځه وړى دي.

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

د ببرک خان ملي اتلوالي او د هيواد پالنې ميرانه د افغانستان دولت ته هغه‌مهال ثابته شوه، کله چې غازي ببرک خان ځدران د ټل جنګي کلاه نيولو ورسته د پيښور د نيولو په لور د تيارۍ په حال کې شو. همماله په سيمه کې د انګريزانو په وړاندې پاڅونونه پيل شول، د انګريزانو په ليکو کې ماتې ورګډه شوه. په پيښور کې د افغان مجاهدينو او غازيانو په پلوی خوښتونه پيل شول، سمدستي انګريزانو د متارکې او اوربند اعلان وکړ او د افغانستان ملي خپلواکۍ پيژندلو وړانديز وکړ. له دې برخليک ټاکونکی جګړې او برۍ ورسته افغانستان خپله بشپړه ملي او سياسي خپلواکي نړيوالو ته اعلان کړه.

غازي ببر ک خان د لويې پکتيا د مشرانو په استازيتوب د غازي امان الله خان څخه خپل بيعت اعلان کړو. شاه امان الله خان له يو شمېر صلاح مشورو ورسته د انګريزانو خلاف جهاد کولو لپاره د دريو محاذونو قوماندانان وټاکلو. پالوځی جنرال ببرک خان ځدراڼ يې د سپه سالار جنرال محمد نادرخان په مشري د جنوبي محاذ قوماندان وټاکلو.

غازی پاچا اعليحضرت امان الله خان د افغانستان خپلواکۍ تر لاسه کولو ورسته کله چې د اروپا له سفره راستون شو، په يو شمير سمونونو او ريفورمونو باندې لاس پوري کړو.

د اماني مډرن دولت په وړاندې لومړنی شورش په خوست کې پيل شو. غازی ببرک خان د اماني دولت په پلوي د همدې شورش په کړارولو کې د هيواد د جاهلو دښمنانو لخوا په شهادت ورسول شو. شهيد ببرک خان ځدراڼ د خپل هيواد د يو اتل سپاهي په توګه د خپل ګران افغانستان د دفاع او ژغورنې په لاره کې تر ورستی سلګۍ پورې مبارزه وکړه او خپل خوږ ژوند يې د خپل هيواد او هيوادولو لپاره په ۱۳۰۴ هجري شمسي کې په ۶۳ کلنۍ کې په سخته توده روانه جګړه کې د خپل يو ټپي شوي همسنګر ملګري په مرسته کولو او ژغورلو کې خپل سر هم قربان کړو. اروا يې ښاده او ياد تل زموږ سره وي.

د پښتنو د دود او دستور له مخې د مشر خان مشر زوی د هغه ځيناستي کيږي. د غازي ببرک خان ځدراڼ تر شهادت ورسته بايد د هغه مشر زوی مولوي شيرک خان د خپل پلار ځای ناستي شوي وای. خو حاجی شيرک خان د خپلې سپيڅلتيا او ديني علميت له وجهې نه غوښتل د خپل قوم مشری په غاړه واخلي. ځکه مولوی شيرک خان يو ډير ديندار او پرهيزګاره ديني عالم ګرځيدلي وه، هغه نه غوښتل په قومي شخړو کې لاسوهنه وکړي. د غازي ببرک خان دويم زوی نايب سلار زمرک خان د خپل قام مشري په غاړه واخيسته او د ځدرانو خاني پټکی په سر وتاړه.

سيد اکبرخان ببرک خان کورنی ځنګه له افغانستان څخه برتانوی هند ته جلاوطنی ته مجبوره کړل شوه ؟.

افغان شاهي دولت ته په پر ليسي توګه د ځينو مضرو اشخاصو لخوا راپورونه ورکول کيده، چې غازي امان الله خان د دولتي واک او تاج و تخت بيرته نيولو لپاره لويه پکتيا ته راغلي دی او د غازی ببرک خان ځدراڼ په جنګي کلاه کې پټ ځاي په ځای شوي دی. د همدې راپورونو پر بنسټ د افغان شاهي دولت چاروکي او استخباراتي مامورينو دوه ځلي د ببرک خان کلاه او ميلمستونونه د ګيدوري سيمه کې د غاري امان الله خان د موندلو په لټه کې تلاشي کړل. هغمهال زما مرحوم پلار (ليکوال) په خپله د ببرک خان د کورنی د يو مشر ځوان په توګه د کابل څخه د راغلي پلټونکي پلاوي ته د خپلې کلاه دره يا دروازه ورخلاصه کړي وه. دې نابېره راغلي استخبارتي مامورينو په کلاه کې د امان الله خان په اړه هيڅ ډول شواهيد ونه موندل او بيرته په هماغه لار چې راغلي و، کابل ته لاړل.

افغان شاهي دولت په دې پوهيدو لکه څنګ چې په لوی کندهار کې د محمدزيو کورنی د ستر موم او نښان خاونده ده، همدارنګه د غازي ببرک خان کورنی د ځدرانو په قبيله او لويه پکتيا کې د ښه نوم و نښان او له ولسي ملاتړه برخمنده کورنی ده .

افغان شاهي دولت په لويه پکتيا کې د ببرک خان له کورنۍ څخه په ځينو مهمو دليلونو وېريده، د دولت د همدې وېرې له امله دغه هيواد پاله ملي کورنۍ جلا وطني يا تبعيد ته اړه کړل شوه. کله چې اماني دولت د يو شمير ورسته پاتو عناصرو لخوا، کوم چې د انګريزي استعمارګرو له لوري ملاتړ کيدو، نسکور شو او په پاېله کې د سقو زوی په کابل کې واک ته ورسيد. اعليحضرت محمد نادر شاه لومړی د سقو زوی نسکورولو لپاره د برتانوي هند له لارې لويې پکتيا ته د ببرک خان جنګي کلاه ته راغي. سپه سالار محمد نادر خان د لويې پکتيا له مشرانو سره د يوې جرګې په ترڅ کې دا پرېکړه وکړه، چې د دوی ټولې هڅې او هلې ځلې به د سقو زوی له وحشت او بربريت څخه د کابل ژغورل وي او د افغانستان شاهي دولتي واک او تاج و تخت به بيرته اماني هيوادپال نهضت ته ورسپارل کيږي.

د نوی افغان شاهي دولت جګپوړی چاروکی سپه سالار غازي محمد نار خان د غازی ببرک ځان زوی نايب سلار زمرک ځان سره په خپله کړې ژمنه پيشيمانه شو او د خپلې پرېکړې څخه پشا شو دا قومي پرېکړه هغمهال ترسره شوې وه، کله چې جنرال محمد نادر خان په لويه پکتيا کې د سقو زوی حکومت د پرځولو پلان جوړولو. د نايب سالار زمرک خان ځدراڼ او د پکتيا قومي مشرانو او جنرال محمد نادرخان سره دا پرېکړه وه، چې د کابل فتحه کولو او د سقو زوی شر او فساد حکومت د نسکورولو ورسته به دولتي واک بيرته غازي شاه امان الله خان ته ورسپالرل کيږي.

کله چې جنرال نادر خان د پکتيا قومي مشرانو په مرسته کابل فتحه کړو. سپه سالار محمد نادر خان له خپلې ژمنې او پرېکړې واوښت او خپله پاچاهي په کابل کې اعلان کړه. د افغان شاهي دولت د واکمنی کورنی او د غازي ببرک خان کورنی ترمنځ د غازي امان الله خان د بيرته راتګ او واک سپارلو له امله يو ستر اختلاف پيل شو .

د افغانستان د خپلواکي په جګړه کې د ببرک خان غازی ببرک ځان برخليک ټاکونکي رول او په لويه پکتيا کې د ډيورنډ کرښې په اوږدو کې د دوولسو ټانو د ساتلو مسووليت او د برتانوي هند له چاراوکو سره د ډيورنډ کرښې په ايستلو کې د اميرعبدالرحمن خان ځانګړی استازی نومول کيدل وه، همدا مهال د امير عبدالرحمن خان د پاچاهي پرمهال نوموتي غازي ببرک ځان ته د غونډ مشری پوځي رتبه ورکړل. همدارنګه د غازي امان الله خان په شاهي دولت کې پښې لوڅې غازي ببرک خان ته د اعزازي جنرالي رتبه ورکول. غازي ببرک خان ته د افغانستان د خپلواکی بيرته ګټلو کې مهم رول ولوبولو. له دې امله د غازی شاه امان الله خان لخوا غازي ببرک خان ته د افغانستان تر ټولو لوړ عالي لوړ دولتي نښان د المر اعلی نښان ډالی کيدل.

دا مهال غازي ببرک خان ځدراڼ په سيمه کې يو پياوړی اغيزمن قومي او ملي شخصيت پيژندل. کيدل. غازي ببرک خان ځدراڼ د شاهي دولت له اوامرو څخه د خپلې پښتو او پښتونولي په چوکاټ کې اطاعت کول، له دې ځانګړتياو له امله د ببرک خان کورنۍ د امان الله خان او اميرعبدالرحمن خان په دربار کې يوه با نفوذه، هيواد پاله او د هيواد ملي ګټو ته يوه ژمنه کورني پيژندل شوې وه. خپله امير عبدالرحمن خان د ببرک خان هيواد پالي او ملتپالي کورنی په نامه د کابل تخت نيشنانو يا واکمنو ته داسې يو بيساري وصيتليک ليکلې وه. غازي ببرک خان ځدراڼ او د ده کورنی د وطن ډېره مخلصه وفاداره او صادقه کورنۍ ده، دا زما وصيت دی: څوک چې د کابل پر تحت تکيه وهي د ببرک خان ځدران له کورنۍ سره به ښه مينه کوي او د يوه صادق او د وطن د خدمتګار په توګه له دوی څخه د وطن په خدمت کې کار واخلې. دا وصيتنامه اوس هم د کابل د ارګ په ارشيف کې شتون لري..

## د دويمې نړيوالې جګړې په پای کې افغانستان ته د انګريزي او شوروي اتحاد امپراتوريو ګواښونه

د دويمې نړيوالې جګړې پای کې متحدينو د نړۍ د نورو هيوادونو تر څنګه له افغانستان څخه هم وغوښتل، چې نازی المان په دويمه نړيواله جګړه کې ماته خوړلې ده. په افغانستان د مات شوي جرمني ډيپلوماتان او اتباع دې د جګړې يرغمل شويو کسانو په توګه دوی ته وسپارل شي. څو له دوی سره د جنګي اسيرانو په توګه چلند وشي. د جرمني


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ

ډيپلوماتانو د نه سپارلو په صورت کې به د شوروي اتحاد امپراتورۍ د افغانستان پر شمالي سيمو بريد وکړي او همدارنګه د انګريزانو ښکېلاکګرې امپراتورۍ به د افغانستان په سويلي سيمو بريد وکړي.

افغان شاهي دولت د متحدينو روسانو او انګريزانو د غوښتنو او ګواښونو له امله بيړنی حالت اعلان کړلو، ورسره د هيواد له ګوټ ګوټ څخه ته۱۸۰۰ کسيزه دوديزه لويه جرګه کابل راوبلله. په دې لويه جرګه کې د افغان دولت لوړ پوړي چارواکو سربيره د بهرنيو هيوادونو سفيران او ډيپلوماتان هم ګډون وکړی وه. که څه هم د جرګې ځينې ګډونوال په دې اند و، جرمنان دې وروسپارل شي، ځکه له افغانستان سره د دې توان نشته، چې د دويمې نړيوالي جګړې ګټونکي متحدينو زبرځواکو مقابله وکړي.

نايب سالار زمرک خان ببرک زی ځدران د لويې جرګې مشر په توګه د لويې جرګې په تالار کې له خپل کمربنده پيشقبضه راويستله، د قاليني يوه څنډه يې را پورته کړه او په پيشقبضه د قاليني څنډه سوری شوه، بيا په لوړ غږ داسي وينا وکړه.

زما ګرانو هيوادوالو او د هيواد درنو استازو؛ دې خاورې ته که روسان راځي او که انګريزان دا بايد په ژوره توګه واورې چې افغانان به يې په خنجر باندې داسي زړونه سوري سوري کړي لکه د قاليني دا څنډه چې سورې شوه. انګريزان بايد په افغانستان باندې خپل پخواني تېري تجربه کړي وي او هغه يې بايد په ياد وي او روسان بايد هم په افغانستان کې د انګريزانو له پخواني تاريخ څخه درس اخيستي وي. نايب سالار زمرک خان د خپلو احساساتي او جذباتي خبرو کې دا هم ورزياته کړه، چې يوازې د شرقي جبهاتو د جنګ ټول صارف د درې کلونو د باره په غاړه اخلم، نو غوره به دا وي چې لويه جرګه په دې اړه لازم تصميم ونيسي او حکومت دې د هغې فيصلې پر بنسټ اجرآت وکړي، د نايب سالار زمرک خان ببرک زی دې احساساتي او جذباتي خبرو سلطنتي کورنی له سخت تشويش سره مخامخ کړه او د ببرک خان ځدرانٍ له کورنۍ څخه يې د وېرې احساس وکړو، چې بيا ورسته د دې پر کورنۍ د حکومت د يرغل يو بل دليل دا هم و. سرچينه ,, د غازيانو اتلانو ياد,, کتاب ۲۲۲ پاڼه . نايب سالار زمرک خان ببرک زی خپلې خبرې داسي وغزولې: په فغانستان کې ټول المانيان د دې ملت ميلمانه دي او د دوی عزت زموږ عزت دی. د افغانستان باشهامته او غيرتي ملت د خپل ميلمه سپکاوی او بې عزتي نه غواړي او نه د هغوي بې عزتي زغملي شي، که المانيان خپلې خاورې ته تلل غواړي، نو تر هغې به د روس او انګريز سفيران په کابل کې له موږ سره يرغمل پاتې وي، ترڅو پورې چې ټول جرمنيان په ابرو او عزت سره خپل هيواد ته ورسيږي خو که د لارو په اوږدو کې زموږ ميلمنو ته کوم تکليف ورسيږي، هغه تکليفونه او کړاونه به د روس او انګريز سفارتونه په خپلو ځانونه وزغمي.

لنډه دا چې ترڅو پورې چې د المان د حکومت له خوا موږ ته د دوی د اتباعو د ډاډمن رسيدلو په اړه خبر نه وي راکړل شوي، تر هغې به د دوی سفيران له موږ سره يرغمل وي، چې کله د نايب سالار زمرک خان ببرک زی و ينا پای ته ورسيده، بيا د هرات ولايت وکيل پاڅيدو، هغه هم له احساساتو ډکه جذابه وينا وکړه او د نايب سالار زمرک خان ببرک زی نظر يې تائيد کړ، ورسته لويې جرګې په دې نظر باندې رائيه وغوښتله او د رائيو په نتيجه کې په غوڅ اکثريت سره دغه نظريه تائيد شو او د دې غونډې د عملي کولو حکم يې صادر کړ او بيا د افغانانو د دې فيصلې په نتيجه کې په افغانستان کې اوسيدونکي المانيان په خورا عزت او درناوي سره خپل هيواد ته روغ رمټ ورسيدل او هم په هيواد کې بيړنی حالت پای ته ورسيد او د هر څه پريمانې شوه.

په دې کې هيڅ شک او شوبيان نشته، چې د سقو زوی په پرځول د کابل او ارګ فتح کول د وزيرو، مسعود، ځدرانو، ځاځيو او منګولو قومونو د ګډو همکاريو او قربانيو پرنه ناشوني وه. د افغانستان د خپلواکی او نجات تاريخ کې پياوړي مجاهد، بريالي غازي او نامتو جرنيل محمد خان وزير د خاطراتو په کتاب کې د زمرک خان ببرک زی ځدرانٍ څخه په وار وار يادونه کړې ده، جنرال محمد خان وزير د خپل کتاب په يوه برخه کې داسي ليکي: کله چې موږ د ارګ

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

دیوالونو ته له نږدې شو، د یوې وینا پرخ کې خپله جنګي کړنلاره خپلو مجاهدینو ته داسې اعلان کړه، جنرال وویل. زه دا غوره ګڼم چې د ارګ دیوالونه په خپلو وینو ورنګوو او هغه صورت کې چې موږ په سنګرونو کې مړو، دا به ښه وي، چې په سلو کې پنځوس د ارګ په فتح کې ومرو اوس ستاسو مشرانو خوښه او اختیار دی چې زما دې وړېږ او اندېښنې ته څرنګه ځواب ورکوي، هغه د وینا سره ټول مشران یوه شیبه په فکر کې شول، تر ټولو لومړی محمد ګل خان چې یو د ډیر حساس فکر خاوند و او زمرک خان ځدراڼ چې د خپل غیرتي پلار ببرک خان په څېر په جنګي مسایلو کې پوه او اګاه و، څرګنده کړه،

یارمحمد خانه! ستا دا ندېښنه او وېره پر وخت او پر حق ده، زموږ هم خوښه ده چې په یوه ځل پر ارګ باندې برید وکړو او دا سلطنت غاصب د خپل عمل په جزا ورسوو. د محمد ګل خان او زمرک خان څخه ورسته ټولو په دې موافقه وکړه، چې د ۱۳۰۸ لمریزه هجري کال د میزان د شلمې له سپیدو چاودو سره دې په ارګ باندې په ګډه فیصله کوونکی برید وشي او حمله وشي، د پرېکړې سره سم ارګ په شدت د توپونو په ګولیو وویشتل شو او د ارګ څخه د اور لمبې او دودونه اوچت شول ۳۲۲ پاڼه د افغانستان د خپلواکی او نجات تاریخ کتاب

لنډه دا چې د همدې لاملونو پر بنسټ په کابل کې د محمد زیو شاهي کورنی او د نایب سالار زمرک خان په مشرۍ د ببرک ځان کورنۍ ته په لویه پکتیا کې د یو ګواښ په څیر کتلو. له یوه لورې د هیواد په سویلي محاذ کې د لویې پکتیا ولسونو په ملاتړ د ببرک خان په مشرۍ د افغانستان د ملي خپلواکی د بیرته اخیستلو کې ستره ونډه اخیستل له بلې خوا د ببرک خان زوی نایب سالار زمرک خان ځدراڼ په کابل کې د سقوي زوی په پرزولو کې د سپه سلار محمد نادر خان سره ستر برخلیک ټاکونکي ونډه درلودل وه.

## د غازي ببرک خان هیواد پاله کورنې څنګه له افغانستانه برتانوي هند ته تبعید کړل شوه ؟

د افغان شاهي دولت او د ببرک خان کورنی دویم مشر زوی نایب سلار زمرک خان سره اړیکې د غازي شاه امان الله خان د بیرته راوستلو د ګونګوسو له امله هم ځښتې ډیرې کړکیچنې شوې او تر بې اعتباري تر پولې پورې رسیدلې وې.

په همدې ترڅ کې نابېره افغان شاهي دولت د صدراعظم سردار محمد هاشم خان په امر د لوا مشر جعفر خان تر قوماندې لاندې پرته له کوم ثبوت شوي جرم او ملي خیانت د ببرک ځان ځدراڼ په کورنې او شخصي حریم باندې د ګیډورې په سیمه کې د توپو ډزې، د هوایي ځواک له بمباریو سره مل یو وسله وال برید پیل کړل شو. د ببرک خان کورنی چور او تالان پیل شو. د شهید ببرک ځان زمنو ځو ورځو د خپل ننګ او ناموس ساتلو له کبله دومره مقاومت وکړو، څو دوی خپلې ښځینه او ماشومان یوې امنې سیمې ته وباسي. د لویې پکتیا د قومونو مشران او قومي لښکرې هم د منځګړتوب لپاره سیمې ته راورسیدې. دوی مجبوره شول وزیرستان ته د انګریزي امپراتورۍ سیمې ته واوړي.

د همدې ناروا برید په ترڅ کې د کابل څخه د راستولي شوي پوځی قطعې یو قوماندان نادر شاه ووژل شو، چې بیا ورسته د نادرشاه کوټ ولسوالۍ د همدې وژل شوي قوماندان په نامه ونومول شوه.

کله چې د ببرک خان زامنو د نایب سالار زمرک خان په مشري په یوه بیړنې استراري حالت کې وزیرستان ته پناه یوړه، د وزیر قبیلې مشرانو د پښتو او پښتونولۍ د دود دستور له مخې نایب سلار زمرک خان او د هغه وروڼو ته په خپلو کورونو کې ځای او پناه وکړه.

انګریزي نړیوالې امپراتورۍ د افغان شاهي دولت د لاسلیک شوي پروتوکول په بنسټ دوی تر تعقیب لاندې ونیول شول، انګریزانو لومړۍ د وزیر قبیلې ته خبرداری ورکړو، څو د خپلې سیمو څخه راغلي میلمانه وباسی. د وزیر میرنې قبیلې د انګریزانو خبرداري ته کوم غبرګون ونښود، له هغې ورسته انګریزانو د خپلو ځانګړو الوتکو له لارې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

پر وزیرستان باندي له هوا څخه ګلابی رنګه اخطاري پاڼي وشيندلې. په پښتو ژبه ليکلي شوي وه، تاسو ته خبر درکول کيږي، که د افغانستان شاهي دولت مخالفين له خپلې سيمي ونه باسئ، دوی به په ټاکلي شوي سيمه باندي بمباري وکړي. انګريزانو خپل ګواښ ريښتني کړو، د وزيرو په سيمه باندې بمباري وکړي. زما مور او پلار د (ليکوال) د دې بمباري عيني شاهدان وه، دوی د غره له يوې سمڅي څخه د انګريزانو د جنګي الوتکو د بمباري تماشا کوله. انګريزانو په وزيرستان باندې اخطاريه پاڼي په داسي مهال وغورځولې، له يوې خوا د وزيرستان ستر غازي ميزاعلی خان ايپي فقير د انګريزانو دې بې رحمه بمباري ته سخت غبرګون وښودل او له بلې خوا په لوی وزيرستان کې د ميرني وزيرو قومونو او د لوېي پکتيا د قومونو مشران په جرګه بوختيدل. انګريزانو په سيمه کې د وزيرستان جرګوالو راغونډيدل او د ببرک ځان کورنۍ مشرانو شتون يې خپلې امپراتورۍ لپاره يو ګواښ ګڼلو. جرګه والو په روانه جرګه کې د يو متقابل وسله وال پاڅون پرېکړې ته نږدې شوي وه، خو نايب سالار زمرک خان د خپلو ورونو په مشرۍ د وسله وال پاڅون پرېکړه رد کړه. هغه نه غوښتل؛ چې د ځان او د خپلې کورنۍ د بې عزتي په بدل کې د افغان شاهي دولت په وړاندې وسله وال پاڅون پيل وکړي. هغه پوهيدو چې د يو ناسم پوهاوي يا د هغوي د مخالفينو له خوا پر دوی د يوې پلان شوي دسيسي طرحي له مخې ناروا تور لګولي شوي دی. تور داسي لګول شوي وه، ګني د ببرک خان کورنۍ د غازي امان الله خان بيرته واکمنولو هوډ لري.

د ځدرانو مشران پوهيدل چې له دوی سره د غازي امان الله خان د بيرته راوستول هيڅ کوم پلان نشته. د ببرک خان ځدراڼ کورنۍ يوازې د يوه بې بنسټه تور لګولو له امله خپلو کورنيو واړو او زاړو سره بې ګناه کډوال شول.

د همدې قومي جرګي د پريکړې ورسته د شهيد ببرک خان زامن سره وويشل شول. ځکه د دوی ته د کابل څخه د افغان شاهي دولت له لورې د بيرته ستنيدو بلنه د يو فرمان په ترڅ کې ليږل شوي وه. په همدې بيرني حالاتو کې شپږ وروڼه له يوې مودې ورسته بير ته افغانستان ته راستانه شول او درې نورو ورونو نايب سالار زمرک خان، ډګروال مامونه خان او سيد اکبر خان په خپلو کې قسم ياد کړو، تر څو په افغانستان کې د نادر خان شاهي کورنۍ واکمنه وي، دوی به افغانستان ته بيرته ستانه نه شي.

کله چې د ببرک خان شپږ زامن بيرته افغانستان ته راغلل، دوی د شاهي دولت لخوا له ونيول شول او له دوی سره ډير بد چلند وشو. کله چې زما (ليکوال) نيکه مولوی شيرک خان ببرک زی د وزيرستان څخه د شاهي دولت د يوه فرمان له مخې بيرته افغانستان ته راغي، دی د قبايلو په رياست کې بندي او نظربند کړل شو. زما مرحوم پلار به هره ورځ زما مرحوم نيکه ته له کوره پخه ډوډۍ وروړه.

زما د پلار له خولې يوه ورځ سر دار شاه محمود خان د امير عبدالرحمان خان وصيت نامه مولوی شيرک خان مخې ته ايښودلې وه، وويل، د کابل تخت نيشنانو له لورې د ستاسو ملي کورنۍ ته د يوې با اعتماده او باورمندې کورنۍ په ځير ګتل کيده، تاسو ولې خپل ملي اعتبار او باور له لاسه وکړو؟ نيکه په ځواب کې ورته ويلي و، دغه وصيت نامه تاسو ته ليکلې ده، تاسو بايد د سردار محمد هاشم خان څخه پوښتنه وکړي. چې ولې زموږ هيواد پاله کورنۍ پرته له کوم جرم او ګناه څخه چور، تالان کړه ، فراري کړه او موږ مو اوس بنديان کړي يو؟

کله چې د ببرک خان مشر زوی مولوي شيرک خان ته د حکومت لخوا يوه توبه نامه وړاندې شوه، څو دی لاسليک پرې وکړي، هغه د توبه ليک له لاسليکولو څخه انکار وکړو او هغه په توبه نامه کې وليکل، چې کړي مې څه دي ؟ ولې توبه ليک لاسليک کړم ؟ له دې امله دی ډيره موده نور په بند کې پاتې شو، بيا ورسته د مخورو قومي مشرانو په وساطت او منځګړتوب له بنده خوشي کړل شول.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

د لیاقت علی د سیاسي وژنې په اړه د ځینو ورځپاڼو لیکنو او تبصرو ته یوه کتنه

د پاکستان صدراعظم لیاقت علی تر ووژل کیدو دوه ساعته ورسته د پاکستان حکومت د دې وژونکي پېښي په اړه یوه اعلامیه خپره کړه: برید گر افغان سید اکبر د افغانستان د خوست اوسیدونکي دی. سید اکبر د افغانستان د خوست ولایت د ځدرانو قبیلې مشر ببرک خان زوی دی. سید اکبر خان هیڅکله د تورنو کسانو په لیسټ کې نه وه شامل. د هغه پلار د غازی امان الله خان په پلوي او د امانی سلطنت یا دولت په پلوې جګړه کې وژلی شوي دی.

امان الله خان د افغانستان لومړنی خپلواک پاچا وه. د سید اکبر کورنی د اماني دولت پلوه فراکسیون کې شامله کورنۍ وه. سید اکبر خان د افغان وسله وال پوځ کې یو ډگرمن وه.

په ۱۹۴۷ کال د جنورې په میاشت کې سیدا کبر خان ببرک زی د خپلو دوو ورونو سره برتانوی هند ته کډوال شو. هغهمهال د برتانوي هند حکومت لخوا سید اکبر خان ببرک زی ته او د هغه د کورني نورو غړو ته سیاسي پناه ورکړه. د هغه په ایبټ اباد کې یو کور کې مېشت شو. د برتانوی هند حکومت له خوا دوی ته د میاشتي ۴۵۰ روپې معادل ۱۵۵ امریکايي ډالر د سیاسي کډوالي معاش په توګه ورکول کیدې. همدغه پیسي بیا د پاکستان د نوی حکومت له لوري هم ورکول کیدې.

سید اکبر خان ببرک زی په ایبټ اباد کې لومړې د انگریزي امپراتوری د استخباراتو بیا ورسته د پاکستان له جوړیدو سره جوخت د پاکستاني استخباراتو مامورینو سي آی ډي له دریو کلونو راهیسي په پرلپسي توګه تر خپل تعقیب او نظارت لاندې نیولي وه.

په ۲۰۱۵ کال د اکتوبر په شپاړلسمه نیټه د پا کستان ډیوان اخبار کې هم د صدراعظم لیاقت علي وژونکی سید اکبر یو افغان تبعه وبلل شوي دی او دا پوښتنه راوچته کړې ده، چې هغه د نیولو پر ځاې ولې هغه ووژل شو.؟

د نیویارک ټایمز ورځپاڼي خپل یو رپوټ کې لیکي، کله چې هغه دوه مرمی وویشتل شو، د هغه څنګ ته ناست خلک په خپلو کې سره ونښتل. خلکو په سید اکبر باندې ګوزارونه وکړل، هغه ووهه، په هغه یې ډزې وکړې او لږ تر لږه ځینې خلک په ډزو کې وویشتلي شوه، یوه ګولۍ د پولیسو د یوه افسر لخوا ویشتل شوي ده.

اخبار لیکي، د دې پېښې ورسته د افغان حکومت ویاند سمدلاسه ادعا وکړه، چې سید اکبر خان د خپل ملت سره دښمني فعالیتونو له امله د افغان تابعیت څخه بې برخي شوي دی، له دې امله برتانوي چاروا کو هغه ته په صوبه سرحد کې پناه ورکړې وه. د برتانوي هند حکومت له لوري سید اکبرخان ته یوه اندازه معاش هم ټاکل شوي وه.

د دریمې برخي پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ